مسافر کی نماز (پشتو)

DAWAT-E-ISLAMI

# د مُسافر نمونځ (حَنَفِي)



پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي)

شَیخِ طَریقَت، اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال
**مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**
دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنۡ شَآءَاللّٰہعَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي كيږي:

**اَللّٰھُمَّ افۡتَحۡ عَلَیۡنَا حِکۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَیۡنَا رَحۡمَتَكَ یَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِكمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

طلب غم مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر كښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالي نوم: د مُسافر لمونځ (حَنَفِي)

اول ځل: ..........................................

تعداد: ....................

ناشِر: مكتبةُ المَدينه، عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالي د چاپ كولو اجازت نشته

### كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښ څه ښكاره خامي وي يا پاڼړې كمي وي يا په بائنډِنګ كښ مخكښ وروسته لګيدلي وي نو مَكۡتَبَةُالۡمَدِیۡنَه ته رجوع اوكړئ.

# د مُسافر لـمونځ (حَنَفِی)

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه دا رِساله "مسافر کی نماز" په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

# فهرست

## د مُسافر لمونځ (حَنَفِي)


د دُرود شریف فضیلت ........................................ 1
وړومبې خلور نه بلکه دوه رکعاته فرض شوي وو........................ 2
د شرعي سفر فاصِله ........................................ 3
مسافر به کله وي؟........................................ 3
د آبادئ د ختمیدو مطلب ........................................ 3
د فِنائے ښار تعریف........................................ 3
د مسافر جوړیدو د پاره شرط ........................................ 4
د شرعي سفر مِقدار او د ښار سینټر........................................ 5
د وطن قِسمونه ........................................ 5
د وطنِ اِقامت د باطِل کیدو صورتونه ........................................ 6
د سفر دوه لارې........................................ 6
مسافر د تر خو پورې مسافر دے ........................................ 6
که سفر ناجائِزه وي نو؟ ........................................ 7
د مالِک او نوکر یو ځائے سفر ........................................ 7
که کار اوشو نو لاړ به شم!........................................ 8
د زنانه د سفر مسئَله ........................................ 8
د زنانه سخرګنئ او د پلار کور........................................ 9
عرب مُلکونو کښې په وِیزه د اوسیدونکو مسئَله........................ 9
د زائِرِ مدینه د پاره ضروري مَسئَله ........................................ 10
د عُمرے په وِیزه باندې د حج د پاره حصاریدل څنګه دي؟........................ 11

قَصْر واجِب دے ........................................................................ 12
که د قَصْر په بدله کښې ئې د څلورو نِيَّت اوکړو نو.....؟ ........................ 13
مُسافِر اِمام او مُقِيم مُقتدي........................................................ 13
مُقِيم مُقتدي او باقي دوه رکعاتونه.................................................. 14
آيا مسافر ته سُنَّت معاف دي؟ ...................................................... 14
د ”نفلو“ د څلورو حُروفو په نِسبت په روان ګاډي ............................. 14
کښې د نفل ادا کولو څلور مَدَني ګلونه ............................................ 14
که مسافر د دريم رکعت د پاره اودريږي نو ......؟.................................. 16
سفر کښې قضا لـمونځونه............................................................. 17

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د مُسافر لـمونځ (حَنَفِي)

مهرباني اوکړئ! دا رِساله پوره اولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ
د دے فائِدے به پخپله اووينئ.

## د دُرود شريف فضيلت

د اللّٰه تعالیٰ د خوږ محبُوب د دواړو جهانو د سردار، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارک دے: چې کله د زيارت ورځ راځي اللّٰه تَعَالٰی فرښتے ليږي او هغوئي سره د سپينو زرو کاغذونه او د سرو زرو قلمونه وي، هغوئي ليکي چې څوک د زيارت په ورځ او د جُمُعے په شپه په ما په کثرت سره دُرُود شريف لوَلي. (ابن عساکر ج ۴۳ ص ۱۴۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی د سُورَةُ النِّسآء آيت نمبر ۱۰۱ کښې ارشاد فرمائي:

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ فَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖۗ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ یَّفْتِنَكُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِیْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِیْنًا ﴿۱۰۱﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او چې کله تاسو په زمکه سفر کوئ نو په تاسو ګُناه نشته چې په بعضو لـمونځونو کښې قَصْر اوکړئ. که تاسو انديښنه لرئ چې کافِر به تاسو ته تکليف درکوي، بيشکه کفَّار ستاسو ښکاره دُښمنان دي. (سيپاره ۵، آيت ۱۰۱)

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي، د کفَّارو ویره د قَصر د پاره شرط نه ده، حضرتِ سَیِّدُنا یَعْلٰی بِن اُمَیَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حضرتِ سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته عرض اوکړو چې مونږه خو په امن کښې یو، بیا مونږه ولې قَصر کوو؟ [هغوئي] اوفرمائیل چې په دې زه هُم حیران شوے ووم نو ما د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړو. حُضُورِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو چې ستاسو د پاره دا د اللّٰه تعالٰی له طرفه صَدَقه ده تاسو د هغه صَدَقه قبوله کړئ. (صحیح مُسلِم، ج۱ ص۳۴۷ حدیث ۶۸۶، خزائن العرفان ص۱۸۵)

## وړومبے خلور نه بلکه دوه رکعاته فرض شوي وو

اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا رِوایت فرمائي: لـمونځ دوه رکعاته فرض کړے شو بیا چې کله د مدینے سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هِجرت اوفرمائیلو نو خلور فرض کړے شو او د سفر لـمونځ په هُم هغه وړومبي فرض پریښودے شو. (صحیح البُخاری ج۲ ص۶۰۲ حدیث ۳۹۳۵)

د حضرتِ سیِّدُنا عبداللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سفر د لـمانځه دوه **رکعاته** مقرر کړل او دا پوره دي کم نه دي یعني اګر چې په ظاهره دوه رکعاته کم شو خو په ثواب کښې دوه د خلورو برابر دي. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۲، ص۵۹ حدیث ۱۱۹۴ دار المعرفه بیروت)

## د شرعي سفر فاصِله

شَرعاً مسافر هٰغه کس دے څوک چې د ۵۷ مِيله (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) فاصلے پورې د تللو په اِراده خپل مُقامِ اِقامت [يعني د اوسيدو د ځائے نه] مَثَلًا د ښار يا کلي نه بهر شو. (مُلَخَّصاً فتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۸، ص۲۷۰ رضا فاؤنڈيشن مرکز الاولياء لاهور، بهارِ شريعت ج۱ص۷۴۱,۷۴۰)

## مسافر به کله وي؟

**صرف** د سفر په نِيَّت به مسافر نه شي بلکه د مسافر حُکم هله دے چې د علاقے د آبادئ نه بهر شي، که په ښار کښې دے نو د ښار نه او که په کلي کښې دے نو د کلي نه. او د ښار والا د پاره دا هُم ضروري دي چې د ښار خوا و شا چې کومه آبادي د ښار سره **مُتَّصِله** [يعني لګيدلي] ده د هغې نه هم بهر شي. (دُرِّمُختار ، رَدُّ المُحتار ج۲، ص۷۲۲)

## د آبادئ د ختميدو مطلب

د آبادئ نه د بهر کيدو نه مراد دا دے چې کوم طرف ته روان دے هغه طرف ته آبادي ختمه شي اګر که د هغې په **محاذاتو** (يعني برابري) کښې بل طرف ته نه وي ختمه. (غُنيةُ المستملی ص۵۳۶)

## د فِنائے ښار تعريف

**فِنائے** ښار سره چې کوم کلے **مُتَّصِل** [يعني لګيدلے] دے، ښار والا د پاره د هٰغه کلي نه اَووښتل ضروري نه دي هُم دغسې که ښار سره **مُتَّصِل** باغونه

وي اګر که د هغې ساتونکي او کار کوونکي په هغه باغونو کښې اوسيږي، د هُغه باغونو نه اووښتل هُم ضروري نه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۷۲۲) د فِنائے ښار نه بهر کوم ځائيونه چې د ښار د کارونو د پاره وي مثلًا اديره [يعني مُقبره] ، د اسونو زغلولو ميدان، د ډيران غورزولو ځائے، که دا د ښار سره **مُتَّصِل** وي نو د دې نه اووښتل ضروري دي. او که د ښار او فِنا په مينځ کښې فاصِله وي نو نه. (اَيضاً)

## د مسافر جوړيدو د پاره شرط

د سفر د پاره دا هم ضروري دي چې د کوم ځائے نه روان شو د هغه ځائے نه ئې د درې ورځو د لارې (يعني تقريباً د 92کلوميټره) اِراده وي او که د دوه ورځو (يعني د 92کلوميټره) نه کمه اِراده باندې وتلے وي او هلته د رسيدو نه پس ئې د بل ځائے اِراده اوشوه او هغه هُم د درې ورځو (يعني تقريباً د 92کلوميټره) نه کمه لار وي، دغسې که په ټوله دُنيا اوګرځي نو بيا هم مسافر نه دے. (غُنية ص۵۳۷، دُرِّمُختار ج۲، ص۷۲۲، ۷۲۳) دا هم شرط دے چې د درې ورځو د لارې ئې **مُتَّصِله** [يعني په يو مخ] اِراده وي، که داسې اِراده ئې اوکړه چې مَثَلًا د دوه ورځو لار [وهلو نه پس چې يو ځائے ته] اورسيږم نو هلته به څه کار کووم، چې هغه اوکړم نو بيا به د يوے ورځې په لار ځم نو دا د درې ورځو **مُتَّصِله** [يعني په يو مخ] اِراده نه شوه ځکه مسافر نه شو.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ص۷۴۳)

## د شرعي سفر مِقدار او د ښار سينټر

دا خبره ياده ساتل پکار دي چې د ښار آبادي ختميدلو نه پس به د مَسافَت (يعني فاصلے) مقدار ته کتل غواړي. نن صبا د ښار د مينځ نه فاصله شميرلے کيږي او دا د "شَرعي سفر" د پاره ناکافي دي، مَثَلًا (د دې لِيک د وخته 2017ء پورې) د کراچۍ پيمائش د سِوِک سينټر نه کيږي، لِـهذا سفر کوونکو ته پکار دي چې هميشه د مُتَّصِلې (يعني لګيدلي) آبادۍ د ختميدلو لحاظ په نظر کښې ساتي. او دوه خبرې نورې يادې ساتئ، يوه دا چې دا ضروري نه ده چې د يو ځل سفر په دوران کښې چې د ښار آبادي د کوم ځائے نه ختمه شوي وه ګنې درې کاله پس دِ هُم هغه حد وي ځکه چې ډيره تيزۍ سره د آبادۍ د خوريدلو په وجه درې کاله کښې ښار د څه ځائے نه څه ځائے ته رسيدلے وي. بله خبره دا چې د ښار د کوم طرف نه وتل وي د هُم هغه طرف د آبادۍ اِعتِبار به کيږي مَثَلًا کراچۍ نه د ټُول پلازه په لاره باندې آبادي په يو ځائے کښې ختميږي او ټهټّهه طرف ته آبادي بل ځائے کښې ختميږي ځکه چې دواړه طرفونه مُختلِف دي.

## د وطن قِسمونه

د وطن دوه قِسمونه دي (۱) وَطَنِ اصلي: يعني هُغه ځائے کوم ځائے چې دے پيدا شوے وو يا د هغه د کور خلق هلته اوسيږي يا ئې هلته سُکونت اوکړو او دا اِراده ئې ده چې د دې ځائے نه به نه ځم (۲) وطنِ

**اِقامت:** يعني هٰغه ځائے چې مسافر هلته د پينځلَّسو ورځو يا د دې نه د زيات اوسيدلو اِراده کړې وي. (عالمگِيري ج۱، ص۱۴۵)

## د وطنِ اِقامت د باطِل کيدو صورتونه

**وطنِ اِقامت** بل وطنِ اِقامت باطِل کوي يعني يو ځائے کښې د پينځلَّسو ورځو په اراده حِصار شو نو وړومبے ځائے اوس وطن پاتې نه شو. که د دواړو په مينځ کښې مسافتِ سفر وي او که نه. هُم دغسې وطنِ اِقامت په وطنِ اصلي او سفر باندې باطِله کيږي. (درمختارج۲ص۶۳۹، بهارشريعت ج۱ص۷۵۱)

## د سفر دوه لارې

يو ځائے ته د تللو دوه لارې دي د يوے لارې نه مُسافَتِ سفر دے او د بلې نه نه دے نو چې په کومه لار ځي د هغې اِعتِبار دے، که په نزدے لاره لاړو نو مسافر نه دے او که په لرې لاره لاړو نو مسافر دے، اګر که په هٰغه لاره اختيارولو کښې د هغه څه صحيح غرض نه وي. (عالمگِيري ج۱، ص۱۳۸، دُرِّ مُختار مع رَدُّ المُحتار ج۲، ص۷۲۶)

## مسافر د تر څو پورې مسافر دے

مسافر د هغې پورې مسافر دے تر څو چې خپل د اسيدو ځائے ته نه وي رسيدلے يا په آبادئ کښې د پوره پينځلَّسو ورځو پورې د حصاريدو نِيَّت اونکړې دا هله ده چې کله هغه پوره د درې ورځو (يعني تقريباً د 92 کلو

میټره) لار وهلي وي. که درې مَنزِله (یعني تقریباً 92 کلو میټره) ته رسیدلو نه مخکښې ئې د بیرته تللو اِراده اوکړه نو مسافر پاتې نه شو اګر که څنګل کښې وي. (ایضاً ۱۳۹، دُرِّ مُختار ، رَدُّ المُحتار ج۲ ص۷۲۸)

## که سفر ناجائِزه وي نو؟

که سفر د جائز کار د پاره وي او که د ناجائِزه کار د پاره، بهر حال د مُسافِر اَحکام به جاري کیږي. (عالمګیري ج۱ ص۱۳۹)

## د مالِک او نوکر یو ځائے سفر

د میاشتي میاشتې یا د کال کال د تنخواه نوکر که د خپل نائِک [یعني مالِک] سره سفر کوي نو هغه د نائِک تابِع دے، فرمانبرداره ځوئ د پلار تابِع دے او هُغه شاګرد چا ته چې اُستاد طعام ورکوي هغه د اُستاد تابِع دے یعني کوم نِیَّت چې د مَتبُوع (یعني د چا چې تابِع دے) وي هُم هغه به د تابِع هم منلے شي. تابِع له پکار دي چې د متبوع نه تپوس کوي هغه چې څه جواب ورکړي د هغې مطابق دِ عمل کوي. که هغه هیڅ جواب هُم ورنکړو نو دا دِ اوګوري چې هغه (یعني متبوع) مُقِیم دے که مُسافر، که هغه مُقِیم دے نو دا دِ ځان هُم مُقِیم ګڼړي او که مُسافِر دے نو [ځان دِ] مُسافر [ګڼړي]، او که دا هُم ورته نه وي معلومه نو د درې ورځو لار (یعني تقریباً د 92 کلومیټره) سفر کولو نه پس دِ قَصر کوي، د دې نه مخکښې دِ پوره کوي او که تپوس ئې اونکړے شو نو

هُم هغه حُکم دے [يعني داسې لکه] چې تپوس ئې کړے وي او څه جواب نه وي ورکړے شوے. (ماخوذاز بهارِشریعت ج ۱ص ۷۴۵,۷۴۶)

## که کار اوشو نو لاړ به شم!

**مُسافر** که د څه کار د پاره يا د احبابو [يعني دوستانو يا خپلوانو] په اِنتظار د دوه درې ورځو يا د ديارلسو څوارلسو ورځو په نِيَّت حِصار شو، يا ئې دا اِراده وي چې که کار اوشو نو لاړ به شم، په دې دواړو صورتونو کښې که په نن صباء، نن صبا کښې کلونه هُم تير شي نو بيا هُم مُسافر دے، قَصْر لـمونځ دِ کوي. (عالمگيري ج ۱،ص ۱۳۹)

## د زنانه د سفر مسئَله

د زنانه د پاره د مَحرم نه بغير د درې ورځو (يعني تقريباً د 92 کلوميټره) يا زيات سفر کول جائِز نه دي. د نابالِغه ماشوم يا معتُوه (يعني نِيم ليوني) سره هُم سفر نه شي کولے، په لاره ورسره د بالِغ مَحرم يا د خاوند کيدل ضروري دي. (عالمگيري ج ۱ ص ۱۴۲) زنانه د مُراهِق (يعني بالِغيدو ته نِزدے هلک) مَحرم (قابِلِ اِطمينان) سره سفر کولے شي. "مُراهِق د بالِغ په حُکم کښې دے. د مَحرم د پاره ضروري دي چې سخت فاسِق، بيباکه او غير مامون [يعني غير محفوظه] نه وي. (بَهارِ شرِيعَت ج ۱ص ۱۰۴۵، ۱۰۴۴، ۷۵۲)

## د زنانه سخرګنئ او د پلار کور

زنانه سخرګنئ ته واده شوه او هُم هلته ئې اوسیدل اختیار کړل نو د پلار کور د هغې د پاره **وطنِ اصلي** پاتې نه شو یعني که سخرګنئ ئې په درې مَنزِله (یعني تقریباً د 92 کلو میټره په فاصِله) وي او د هُغه ځائے نه پلار کره راغله او د پینځلَّسو ورځو اوسیدو نِیَّت ئې نه وي کړے نو **قَصْر** دِ کوي او که د پلار کره اوسیدل ئې نه وي پریښې بلکه سخرګنئ ته عارضي طور لاړه نو چې څنګه د پلار کور ته راغله سفر ختم شو، لـمونځ دِ پوره کوي. (ایضاًا۵۱ـ۷۵)

## عرب مُلکونو کښې په وِیزه د اوسیدونکو مسئَله

**نن صبا** د کاروبار وغیره د پاره ډیر خلق د بال بچو سره د خپل مُلک نه بل مُلک ته مُنتقِل شي. د هغوئي سره د **مخصوص** میعاد وِیزه وي. (مَثَلًا په عرب اَمارات کښې زیات نه زیات د درې کالو اوسیدو ویزه ورکوي) دا وِیزه عارضي وي او د **مخصوص** رقم په ادا کولو د هرو درې کالو په آخره تازه کول غواړي. **ولې چې وِیزه د مَحدود میعاد وي لِهٰذا بال بچي هُم اګرکه ورسره وي د هغه په امارات کښې د مُستقِل اوسیدو نِیَّت بیکاره دے، دغسې که څوک هلته سلو کالو پورې هم اوسیږي اَمارت د هغه وَطنِ اصلي نه شي کیدے.** دا چې کله د سفر نه راګرځي او قیام کول غواړي نو د اِقامت نِیَّت به کوي. مثلًا په **دُبئ** کښې اوسیږي او د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره ئې د **دعوتِ اِسلامي مَدَني قافِله** کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره تقریباً ۱۵۰ کلومیټره لرې واقع

د امارات دارُ الخِلافه ابوظهبي ته د سُنَّتو ډک سفر اختيار کړو. بيا بيرته چې دُبئ ته راشي او مُقِيم کيږي نو د پينځلَّسو ورځو يا د دې نه زيات قيام نِيَّت به کوي ګڼي د مُسافر احکام به پرې جاري کيږي، خو که ښکاره حال دا وي چې اوس به پينځلَّس ورځې يا د دې نه زياته موده په دُبئ کښې تيروي نو مُقِيم شو. که د هغه کاروبار داسې وي چې پوره پينځلَّس ورځې او شپې په دُبئ کښې نه اوسيږي او وخت په وخت شرعي سفر کوي نو دغسې اګر که کلونه خپلو بال بچو له دُبئ ته ځي راځي دا به بيا هم مسافر وي او قَصْر لـمونځ به کوي. د خپل ښار نه بهر د لرې لرې پورې سامان وړلو والا او ښار په ښار، مُلک په مُلک پيرے وړلو والا ډرائيوران صاحبان وغيره دِ دا اَحکام ياد ساتي.

## د زائِرِ مدينه د پاره ضروري مَسئَله

چا چې د اِقامت نِيَّت اوکړو او د حالت نه ئې دا معلوميږي چې پينځلَّس ورځې به نه حصاريږي نو نِيَّت ئې صحيح نه دے مَثَلًا حج له لاړو او د ذِی الْحِجَّةُ الْحَرام د مياشتې د شروع کيدو باوجود ئې په مَکهٔ مُکرَّمه کښې د پينځلَّسو ورځو حِصاريدو نِيَّت اوکړو نو دا نِيَّت بيکاره دے ځکه چې د حج اِراده ئې کړي ده (نو پينځلَّس ورځې خو دا نه شي پاتې کيدلے ځکه چې) (په ۸ ذِی الحِجَّةُ الحَرام به) **مِنٰی شريف** ته او (په نهم به) **عَرَفات شريف** ته ضرور ځي نو بيا دومره ورځې (يعني پينځلَّس ورځې مُسلسل) **مَکهٔ مُکرَّمه** کښې څنګه پاتې کيدے شي؟ د **مِنٰی شريف** نه چې بيرته

راشي او نِيَّت اوکړي نو صحيح ده. (دُرِّمُختار، ج۲ص۷۲۹، عالمگيري ج۱، ص۱٤٠) هله چي واقعي پينځلَّس يا زياتي ورځي په مَکهٔ مُکرَّمه کښي حصاريدے شي، که غالِب گُمان لري چي په پينځلَّسو ورځو کښي دننه دننه به مدينهٔ مُنَوَّره ته يا وطن ته روان شي نو اوس هم مُسافر دے.

## د عُمرے په وِيزه باندي د حج د پاره حصاريدل څنګه دي؟

د عُمرے په وِيزه باندي غير قانوني طور د حج د پاره حصاريدلو يا د دُنيا د هر يو ملک د وِيزے معياد پوره کيدو نه پس غير قانوني طور د پاتي کيدو چي د چا نِيَّت وي هغه د وِيزے د ختميدلو په وخت کښي چي په کوم ښار يا کلي کښي مُقِيم وي، هلته چي تر څو اوسيږي د هغوئي د پاره به د مُقِيم اَحکام وي. اګر که په کلونو هلته پراته اوسي مُقِيم به وي. البته که يو ځله هُم د 92 کلوميټره يا د دې نه د زياتي فاصلے د سفر په اِراده د هُغه ښار يا کلي نه روان شي نو د خپلي آبادئ نه وتلو سره به مسافر شي او اوس د هغوئي د اِقامت نِيَّت بيکاره دے، مَثَلًا څوک چي د پاکستان نه د عُمرے په وِيزه مَکهٔ مُکرَّمه ته لاړو او د ويزے د معياد د ختميدو په وخت کښي هُم په **مَکهٔ مُکرَّمه** کښي مُقِيم دے نو د هغه د پاره د مُقِيم احکام دي. بيا مَثَلًا که د هُغه ځائے نه **مدينے مُنَوَّرے** ته راغلو نو که په کلونو غير قانوني پروت وي، مُسافر به وي او **قَصْر** لـمونځ به کوي. خو که دوباره وِيزه په لاس ورغله نو د اِقامت نِيَّت کيدے شي. ياد ساتئ! د کوم قانون د خِلاف ورزئ په وجه چي د ذِلَّت، رِشوت او

دروغو وغيره په آفتونو کښې د پريوتو ويره وي د هغه قانون خِلاف ورزي کول جائِز نه دي، چنانچه **اعلٰی حضرت** اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه فرمائي: په مُباح (يعني جائِز) صورتونو کښې بعضې (صورتونه) قانوني طور جُرم وي د هغې خِلاف ورزي کول خپل ذات د تکليف او ذِلَّت سره مخامخ کول دي او دا **ناجائِزه** دي. (فتاوٰی رَضَوِيّه ج ۱۷، ص ۳۷۰) لِهٰذا وِيزے نه بغير د دُنيا په يو مُلک کښې هُم اوسيدل يا د حج د پاره حِصاريدل جائِز نه دي. **په غير قانوني ذريعو د حج د پاره حصاريدو ته (معاذَالله) د الله و رَسُول کرم وئيل سخته بے باکي ده.**

## قَصْر واجِب دے

په **مسافر** واجِب دي چې په لـمانځه کښې **قَصْر** کوي يعني څلورو رکعاتو والا فرض دِ دوه کوي، د هغه په حق کښې دوه رکعاته پوره لـمونځ دے او که قصداً ئې څلور اوکړل او په دوه ئې قَعده اوکړه نو فرض ادا شو او وروستي دوه رکعاته نفل شو خو ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے ځکه چې واجِب ئې پريښودل لِهٰذا توبه دِ اوکړي، او که په دوه رکعاتو ئې قَعده اونکړه نو فرض ادا نه شو او هغه لـمونځ نفل شو خو که د دريم رکعت د سَجدے کولو نه مخکښې ئې د اِقامت [يعني هلته د پينځلَّسو يا زياتو ورځو اوسيدلو] نِيَّت اوکړو نو فرض به نه باطِل کيږي خو د قِيام او رُکوع اِعاده به کوي او که د دريم [رکعت] په سَجده کښې ئې [د اِقامت] نِيَّت اوکړو نو اوس فرض باطِل شو، هُم دغسې ئې که په ورومبو دوو يا

يو کښې قِراءَت اونکړو نو لـمونځ فاسِد [يعني مات] شو. (بهارِشريعت ج ١ص ٧٤٣،عالمگیری ج١، ص١٣٩)

## که د قَصْر په بدله کښې ئې د څلورو نِيَّت اوکړو نو.....؟

که مُسافر د قَصر په ځائے د څلورو رکعاتو فرضو نِيَّت اوکړو او بيا ورياد شو او په دوه ئې سلام اوګرځولو نو لـمونځ به اوشي. هُم دغسې که مُقِيم د څلورو رکعاتو په ځائے د دوو نِيَّت اوکړو او په څلورو ئې سلام اوګرځولو نو د هغه لـمونځ هُم اوشو. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي: "د لـمانځه په نِيَّت کښې د رکعاتونو [د شمير] تَعِيين يعني مقررول ضروري نه دي ځکه چې هغه ضِمناً حاصِل دي. په نِيَّت کښې شمير مُعيَّن کولو کښې خطا نقصاني نه ده. (دُرِّمُختار ج٢، ص١٢٠)

## مُسافِرِ اِمام او مُقِيم مُقتدي

د اِقتِدا صحيح کيدو د پاره يو شرط دا هُم دے چې د اِمام مُقِيم يا مُسافر کيدل معلوم وي، که د لـمانځه شروع کيدو په وخت کښې معلوم شي او که وروستو [معلوم شي]، لِهٰذا اِمام ته پکار دي چې د شروع کولو په وخت کښې خپل مُسافر کيدل ښکاره کړي او که په شروع کښې ئې اونه وئيل نو د لـمانځه نه پس دِ اُووائي چې مُقِيم اِسلامي ورونړه خپل لـمونځ پوره کړئ زه مسافر يم." (دُرِّمُختار، ج٢،ص٧٣٥) او که په شروع کښې ئې اعلان کړے وو نو بيا دِ هُم اووائي لپاره د دې چې کوم خلق هُغه وخت کښې موجود نه وو چې هغوئي ته هم معلوم

شي. كه د اِمام مُسافر كيدل ښكاره وو نو د لــمانځه نه پس دا اعلان كول مُسْتَحَب دي. (بهارِشريعت ج۱ص۷۴۹)

## مُقِيم مُقتدي او باقي دوه ركعاتونه

قَصْر والا لــمونځ كښې د مسافر امام د سلام ګرځولو نه پس چې مُقيم مُقتدي كله خپل باقي لــمونځ ادا كوي نو د فرضو په دريم او څلورم ركعت كښې دِ د سُورَةُالْفَاتِحه لوستلو په ځائے اندازتاً هغه همره وخت چپ [يعني خاموشه] ولاړ اوسي. (درمختارج۲ص۷۳۵،بهارِ شريعت ج۱ص۷۴۸،ماخوذا)

صَــلُّــوْا عَــلَـى الْـحَــبِـيْــب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا مسافر ته سُنَّت معاف دي؟

په سُنَّتو كښې قَصْر نشته بلكه پوره به ادا كولے كيږي، د ويرې او هَلې ګُولې په حالت كښې سُنَّت معاف دي او د امن په حالت كښې به ادا كيږي. (عالمګيرى ج۱، ص۱۳۹)

## د "نفلو" د څلورو حُروفو په نِسبت په روان ګاډي كښې د نفل ادا كولو څلور مَدَني ګلونه

(۱) د ښار نه بهر (مُراد هغه ځائے دے د كوم ځائے نه چې په مُسافر باندې قَصْر واجب كيږي) په سورلئ باندې (مَثَلًا په روان موټر، بس، ويګن كښې هُم نفل ادا كولے شي او په دې صُورت كښې اِستِقبالِ قِبله (يعني مخ په قبله كيدل) شرط نه دے

بلکه سوَرلئ (يا ګاډے) چې کوم طرف ته روان وي هُم هغه طرف ته مخ کول پکار دي، او که هغه طرف ته مخ نه وي نو **لـمونځ** جائز نه دے، او د شروع کولو په وخت کښې هُم قِبلے ته مخ کول شرط نه دي بلکه سوَرلئ يا ګاډے چې کوم طرف ته روان وي هُم هغه طرف ته دِ مخ کړي او رُکوع او سَجدے دِ په اِشاره کوي او (دا ضروري ده چې) د سَجدے اِشاره د رُکوع په نِسبت ټِيټه (يعني رُکوع ته د ښکته کيدو نه زياته ښکته) وي. (دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۸۸ بهارِ شريعت ج۱ص۶۷۱) په روان ريل ګاډي وغيره داسې سوَرلئ کښې که ځائے پيدا کيدے شي نو په هغې کښې به مخ په قبله د قاعِدے مطابق نفلونه ادا کول وي.

(۲) د **کلي** اوسيدونکے چې کله د کلي نه بهر شي نو په سوَرلئ باندې (يعني ګاډي کښې) نفل کولے شي. (رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۸۸)

(۳) که د ښار نه **بهر** ئې په سوَرلئ د پاسه لـمونځ شروع کړے وو او په [لـمانځه] کولو کولو کښې ښار ته داخِل شو نو تر څو چې کور ته نه وي رسيدلے په سوَرلئ ئې د پاسه پوره کولے شي. (دُرِّمُختار، ج۲، ص۵۸۹)

(٤) په **روان** ګاډي کښې د شرعي عُذر نه بغير فرض او سُنَّت او ټول واجِبات لکه وِتر او نذر [يعني د منښتے لـمونځ] او هغه نفل چې مات کړي ئې وي او سَجدۀتِلاوت هله چې آيتِ سَجدۀ ئې په زمکه تِلاوت کړے وي، نه شي ادا کولے او که د عُذر په وجه وي نو په دې ټولو کښې شرط دا

دے چې که کیدے شي نو مخ په قبله دِ ئې په ولاړه ادا کړي ګنې چې خنګه کیدے شي او بيا دِ ئې وروستو دوباره راوګرځوي. (بهارِ شريعت ج۱ص۶۷۳)

## که مسافر د دريم رکعت د پاره اودريږي نو ......؟

که مسافر د قَصْر والا لـمانځه دريم رکعت شروع کړي نو د هغې دوه صورتونه دي (۱) که په قدر د تَشَهُّد ئې قَعدۂاَخِيره کړي وه نو تر څو ئې چې د د ريم رکعت سَجده نه وه کړي نو بيرته دِ را اوګرځي او سَجدۂسهُو دِ اوکړي او سلام دِ اوګرځوي که را اونه ګرځي او په ولاړه ولاړه سلام اوګرځوي نو هُم لـمونځ به اوشي خو سُنَّت پريښودلے شو او که د دريم رکعت سَجده ئې اوکړه نو يو بل رکعت دِ ورسره شامِل کړي او سَجدۂسهُو دِ اوکړي او لـمونځ دِ مُکمّل کړي، دا آخري دوه رکعاته به نفل شميرلے شي. (۲) که د قَعدۂاَخِيره نه بغير اودريدو نو تر څو ئې چې د دريم رکعت سَجده نه وي کړي بيرته دِ را اوګرځي او سَجدۂسهُو دِ اوکړي او سلام دِ اوګرځوي. که د دريم رکعت سَجده ئې اوکړه نو فرض باطِل شو، اوس دِ يو بل رکعت اوکړي او سَجدۂسهُو دِ اوکړي او لـمونځ دِ مُکمَّل کړي، دا څلور واړه رکعاته به نفل شميرلے شي (يعني دوه رکعاته فرض ادا کول به په ذِمّه پاتې وي.) (مَاخوذ از دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۷۲۶)

## سفر کښې قضا لــمونځونه

په حالتِ اِقامت کښې قضا شوي لــمونځونه په سفر کښې هُم پوره کول ضروري دي او په سفر کښې قضا شوي د قَصْر والا لــمونځونه به د مُقیم کیدو باوجود هُم قَصْر کول ضروري دي

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْــب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَـمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## نیک او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ










www.dawateislami.net

مکتبۃ المدینہ
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ الـمدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net